مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

# د پښتو ژبې الفابيت - املاء او ګرامر

انجنیر- شیر ساپی ۲۰۲۶/۰۸/۲۵

## د پښتو ژبې قواعد او مطالبات

د ژبې ليکدود سيسټم په خپل اساس(هسته) کې د صوتي جوړښت پر بنياد ولاړ دئ. د پښتو ژبې کتابت پر حروفي رسم الخط باندې بناء دهٔ. حرف د خط يو علامت دئ، چې يو صوت (غږ) يا د تورو ترکيب وړاندې کوی. الفبايي خط، يو تحريری طرز دئ چې کلمات د حروفو په واسطه ښيی.

حرف د ليکلي ژبې تر ټولو کوچنی واحد دئ. حرف ـ ګرافيم يا توری ياديږي. حروفي ليک، هغه خط دئ چې کلمات د حروف په واسطه افاده او بيانوي. د دې په مقابل کې، هجايی ـ سيلابی؛ کلموی(لوګوګرافي) او تصويری(پيکتوګرافي) خطوط له پخوا موجود وو او دي.

**الفابيت يا الفبايي حروف**: الفبا او هجايی حروف فونوګرافيکی علامهٔ ته ويل کيږی. دا ډول خط چې هر حرف پکې د يو ځانګړی فونيم استازيتوب کوی، چې ورته الفابيت يا مقطعي خط ويل کيږی. دا حروف د ژبې جلا جلا غږونه ښيی. دې ته ځکه مقطعی (Segmental) وايي چې کلام په کوچنيو برخو يا قطعو ويشي. هغه غږونه چې په ليک کې د جلا تورو په بڼه راځي (لکه: ا، ب، پ، يا A,B,C).

حرف (Grapheme) په ليکې بڼه يا املاء کې د ژبې ترټولو کوچنی، د پام وړ او معنی داره واحد دئ. دا د غږ (phoneme) ليکلي نښه ده.

ګرافيم د ليکني په سيسټم کې د فونيم سمبول دئ. د فونيم او ګرافيم ترمنځ توپير دا دئ چې فونيم اوريدل کيږی، خو ګرافيم ليدل کيږی. په لنډه توګه، ګرافيم د ليک په وسيله د غږونو ننداری ته وړاندې کول دي.

دا حروف - معمولا شاوخوا 22 څخه تر 40 مختلف نښې ښيي. دوی د محتوا له مخې هيڅ معنی نلري او کوای شو دا ټول په يوه الفبا کې خلاصه کړو. لفبا يا اَلفِبت د علائمو مجموعه ده چې انسانانو په خپل منځ کې پريکړه (قرارداد) کړې.

**ليک** : د هغو تصويری او هندسی اشکالو(حروف) مجموعه ده چې د ژبې غږونه په بصری بڼه ښيی، ترڅو مفهوم له يوه کس څخه بل ته ولېږدوی. د انسان فکر او خبرې ثبتوی. خط د انسانانو ترمنځ د افکارو، احساساتو او بيان د ليږدولو يوه مهمه وسيله او خاص سيسټم دئ چې د املا اوګرامر قواعدو په تعقيب سره معياری کيږی. د خط اصلي هدف د مفاهيمو خوندی کول او راتلونکو نسلونو ته د پوهې انتقال دئ.

په بشري تاريخ کې تر ټولو لومړی پيژندل شوی او رسمي خط ميخی خط دئ. دا خط شاوخوا ۳۴۰۰ تر ۳۲۰۰ کاله له ميلاد څخه وړاندې په لرغوني بين‌النهرين (Mesopotamia) يا اوسني عراقي سيمو کې د سومريانو لخوا اختراع شو. تاريخپوه ويل دورانت: "خط او ليکل د بشري تاريخ او تمدن تر ټولو لويه، انقلابي او بنسټيزه لاسته راوړنه ګڼي."

د طبيعي ژبو خطي حروف: 22 توري د عبرانی رسم الخط، 24 توري يوناني خط، 26 توري لاتيني ، 28 توري عربي ، 30 توري الماني او 33 توري سيريليک رسم الخط دي.

معيارِ خط هغه توليز او منل شوي اصول او قواعد دي چې د يوې ژبې د ليکلو لپاره په پام کې نيول کيږي، ترڅو په ټولنه کې يو شان، سم او د پوهېدو وړ ليکل دود رامنځته شي. د ژبې د ويونکو ترمنځ يووالی په رسمي او علمي ليکونو کې د اختلاف او ګډوډۍ مخنيوی کوي.

**عربي الفبا** : دعربی ژبې ابجد الفبا، ۲۸ توري لري. عربي الفبا د لاتيني او چينايي الفبا وروسته په نړی کې د ليکلو دريم پراخ سيسټم دئ او د پښتو الفبا له عربی څخه اخيستل شوېده.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

دا عربي الفبا او عربي ځانګړي علایمو (اعراب) ـ د حروفو تشدید یا دبلول(عربی ژبې دیاکریتیک) په لاندې بڼه ښکاري.




ا ب ت ث ج ح خ د ذ ر ز س ش ص
ض ط ظ ع غ ف ق ك ل م ن هـ و ي

عربي الفبا، د عربي لیکلو لپاره جوړ شوی. ډیری حروف د اوبدلې متن شکل لری. عربي الفبا، یوازې بی غږه توري لکه عبراني الفبا، کاتبانو وروسته د مصوت نښې په جلا توګه ابداع کړل.
د عربی ژبې اعراب او لنډ مصوت: لکه، فتحه کسره ضمه؛ فوق المقطعي ځانګړنو(Suprasegmentals) په درلودو چې د معنی په بدلولو کې خورا مهم رول لوبوی. تکیه د کلمې په داخل کې پر یو هجا زور راوستل دئ چې د کلمې معنی بدلوی. آهنګ په ټوله جمله کې د غږ پورته او ښکته کیدل دئ چې د جملې هدف (پوښتنه یا خبر) روښانه کوی.
تعریف: ابجد هغه لیکدود دئ چې په هغه کې یوازې صامت یا بې غږه توري لیکل کیږی او مصوت (Vowels) توري په کې معمولاً د حرکاتو (لکه زور، زیر، پیښ) په واسطه ښودل کیږی چې ډېر ځله په لیک کې نه راځی. یوازی په قرآن کریم کې لیکل حتمی دئ. د ابجد ټول حروف (ا، ب، ت، ث) بشپړ ډول په ډیجیټل بڼه دا مهال په ټیکنالوژی کې پراخ حضور لری او په ډیجیټل ډیټابیسونو کې هم یو منظم سیستم دئ.
عربي ژبه په ډیجیټل نړۍ کې خورا پرمختللې ده، چې ورته ۳۲ ډوله شفرونه ځانګړي شویدي. عصری معیاری عربي په ډیجیټل سرچینو، انټرنیټ، او کاری سافټویرونو کې په پراخه کچه کارول کیږی او د ګرامري پلوه بډایه ډیجیټل بڼه لری.
**پښتو الفبا**: د پښتو ژبې الفبا، د عربي الفبا، غیر عربی تورو او پشتو ځانګړو غږونو ترکیب دئ. شا او خوا ۵۰ توري جوړیږي. د عربی ژبې الفبا : ۲۸ توري . څلور غیر عربي یا منطقوی توري: پ، چ، ژ،ګ .
د پښتو خاص توري د پښتو ټولنې تصنیف : ډ، ټ، ړ، ښ، څ، ځ، ږ، ڼ، ګ ، ې ، ۍ.
عربی نښو دهمزه (ء) ملحقات ، لکه : ء ، أإ ، ؤ ، ئ.
دعربی ضمایمو غیرعربی ترکیب (فارسی او پښتو)، لکه : الف مد(آ) او همزه داره (ۀ) ، مجهوله عبری (ی).
د پښتو ژبې الفبا، په پشتو- پشتو تشریحي قاموس، د علمو ادکادمی چاپ(لومړی ټوک)، همدا حروف پرته له همزه "ء" او منضماتو(ء، أ، ؤ، ئ، ۀ) او د" و" توری درې ځله د الفبا په جدول کې ثبت کړیدئ. پښتو الفبا د تورو تلفظ لاربنود کې، د عربي ابجد توري د لاتیني فونټیک پر بنسټ تدوین شوي او دا ښیې چې دا توري پخپل اصلي بستر کې نه دي.
له همزه سره یوځایي (هٔ) دا توری په پښتو کیبورد کې اوس موجود ندئ. واقعاً یو جدي فني نقص او لویه تېروتنه ده.
د پښتو ژبې په املا کې **"ۀ"** (همزه لرونکی هٔ) یو خورا بنسټیز توری دی چې د ښځینه نومونو د مفرد حالت، د امر په افعالو او ځینو نورو ګرامری حالتونو کې د معنی د جلا کولو لپاره کارول کیږی. مایکروسافټ په خپل سټنډرډ پښتو کیبورډ(د مایکروسافټ په وینډوز ۱۱ کې) د دې توري د لومړیتوب په ورکولو کې پاتې راغلی.
منطقوی توري :"پ، چ، ژ، ګ"، **پ**: د اردو، فارسي او پښتو دریېم او د هندي ژبې ۲۱م توری دی. **چ**: د ترکي څلورم، د هندي شپږم، د فارسي اووم، او د اردو او پښتو اتم توری دی. **ژ**: "د فارسي او ترکي ۱۴م، د اردو ۱۷م، او د پښتو ۱۹م توری دئ. **ګ**: "د فارسي او ترکي ۲۶م، د اردو ۲۹م، او د هندي دریېم او په پښتو الفبا کې ۳۳م توری دئ.
دا توری یوازې یوې ژبې پورې محدود او منحصر ندي. **چ** د ایتمولوژی له منظره د پښتو ژبې ربط حرف دئ. او **په** یو مختاړی دئ.
د پښتو ژبې خاص حروف :" ټ، ډ، ړ، ښ - څ، ځ، ږ، ڼ، ګ، ې، ۍ"
د پښتو ژبې د ځانګړو حروفو شتون له غږیز سیستم له اړتیا څخه سرچینه اخلي. د عربي الفبا حروف، چې د پښتو د لیکدود بنسټ دئ، د پښتو ټول غږونه نه شول افاده کولی . له همدې کبله، د تاریخ په اوږدو کې د پښتو املا لومړني اصول شاوخوا ۴۰۰ کاله پخوا بایزید روښان) په خپل کتاب *خیرالبیان* کې او وروسته خوشحال خان خټک غوښتل پښتو غږونه د نویو تورو پر ځای د عربي په ټکو او علایمو وښیي. د تورو پر ځای **د** <u>عربي د اعرابو له لارې د غږونو ساتل په حقیقت کې د ژبپوهنې د تاریخ یو خورا مشهور او زور بحث دئ.</u>
د ۱۹مې پېړۍ په وروستیو کې برتانوي چارواکو د پښتو ژبې او د هغې د ویونکو قبیلو په اړه ستراتیژیکي ګټې ولیدې دوی غوښتل چې د هند شمال لویدیځه پوله، چې د سند سیند په ښکته برخه کې وه، د هندوکش غرونو ته پورته کړی تر څو د دې غرونو طبیعي بلاک څخه د هند د ساتنې لپاره ګټه واخلي . د دې ستراتیژیکي پولې د ټاکلو لپاره، د پښتنو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

سیمو پوهه اړینه وه. د پښتنو قبیلو نظامي ځواک، دا سخت مقاومت دوی ته وښودله چې دا سیمه او د هغې جنګیالي خلک څومره مهم دي. د دوی تولې ستراتیژیکي کرنې د پښتنو په سیمو متمرکزې وې. د پښتو ژبې سره برتانوي لیوالتیا د دې ژبې د ویونکو قبیلو د ستراتیژیک موقعیت له امله[عامل] وه، ځکه چې دا سیمه د برتانوي هند د شمال لویدیځې پولې د خوندي کولو او د روسیې د پرمختګ د مخنیوي لپاره کلیدي ګڼل کېده. د دوی هڅې یوازې د نظامي او ستراتیژیکو اړتیاوو پورې محدودې نه وې، بلکې دوی د ژبې د پوهېدو او د سیمې د کلتور د درک لپاره د پښتو ادبیاتو په راټولولو، تدوین او مطالعه کې هم بوخت شول. د دې کار تر شا اصلي موخه د پښتنو د قبیلوي ټولنې، فکر او دودونو ژوره پوهه ترلاسه کول ؤ ، چې په پایله کې یې د استعماري واکمنۍ د پیاوړتیا لپاره ډېر مهم ؤ.
په دې برخه کې ځو مهم افسران شامل وو، چې کار یې د یادولو وړ دی:
۱ - هنري جارج راورټي د برتانوي هند افسر او ژبپوه د ۱۸۶۲ کال په شاوخوا کې د پښتو ژبې ګرامر، د پښتو ژبې قاموس، د افغانانو د شعرونو ټولګه، او ګلشن روه (د پښتو نثر او شعر ټولګه).
۲ - توماس پیټریک هیوز پېښور ماموریت مذهبي مبلغ د کلید افغاني په نوم د پښتو درسي کتاب تالیف، چې د ادبي متونو ټولګه وه .
۳ - هنري والټر بیلیو برتانوي طبي افسر او لیکوال د پښتو ژبې ګرامر او قاموس، او د افغانستان د توکمونو په اړه کتابونه .
۴ - رابرټ لیچ برتانوي پوځي انجنیر او سیاسي افسر ( د پښتو ژبې ګرامر) ۱۸۳۹.
په لنډه توګه، که څه هم د برتانوي چارواکو اصلي پاملرنه د سیمې پر ستراتیژیک کنټرول متمرکز ؤ، خو د دوی د ژبپوهنې او ادبي هڅو غیر ارادی پایله د پښتو دودیز ادب ساتنه، د پښتو دوه مهمې لهجې (سختې یوسفزی او نرمې کندهارۍ) مستند کول او د نویو ادبي ډولونو لپاره لار هوارول وو.

**پښتنانه**

پښتانه د جغرافیې د نښلولو نقطه ده. په سیمه کې(چین، هند او روسیه) وروسته ځلورم لوی توکمیز (اتنیکي) ګروپ دئ او د دوی د اوسېدو جغرافیه سویلي اسیا له مرکزي اسیا سره تړي. دا سیمه د تاریخ په اوږدو کې او د نن ورځې په سیاست کې حیاتي اهمیت لرې.
له جغرافیایي وېش (په ځانګړي ډول د ۱۸۹۳ کال د ډیورنډ کرښې او بیا د ۱۹۴۷ کال د هند له وېش) وروسته دا ژبنۍ جغرافیا په سیاسي سرحدونو بدله شوه. د پښتونخوا او افغانستان ترمنځ سیاسي، تعلیمي او میډیایي مرکزونه جلا شول.
په کابل او کندهار کې د لوېدیځې (نرمې) لهجې پر بنسټ رسمي معیارونه جوړ شول، او په پېښور کې ختیځه (سخته) لهجه د راډیو، ټلوېزیون، اخبار او کتابونو له لارې خپله ځانګړې سیاسي او کلتوري هویتي بڼه خپله کړه، چې دې کار د دوی ترمنځ فاصله نوره هم زیاته کړه.
په ۱۹۴۸ کال کې د پښتو ټولنې (پښتو اکاډمۍ) د پښتو خاص توري په رسمي او معیارۍ ډول یو چوکاټ ته راوړل، پښتولیکدود ته د شکلي ګډوډۍ د ختمولو لپاره دا توري رسمي ومنل شول او پنځه ډوله یاګاني (ی، ي، ې، ۍ، ئ) د خپلو ګرامري دندو سره په دقیق ډول ووېشل او تصویب شول. د تاریخي حقایقو له مخې پر ځای ده؛ پښتو ټولنې یوازې په املاء او ګرامر کار نه کاوه، بلکې د هغې دورې د افغان حکومت د بهرنۍ سیاست (په ځانګړي ډول د پښتونستان قضیې) لپاره یې د کلتوري او تبلیغاتي اډانې رول درلود. د ډیورنډ کرښې هاخوا د قبایلو، د پښتنو او بلوچو د حقونو او سیاسي هویت په اړه ډېرې کتابونه او مقالې د همدې ټولنې په مرسته خپرېدې.
د پښتنو د سیاسي او کلتوري یووالي په لوی بحث کې ډېره مهمه ده. دوه بېلابېل لیکدودونه نه یوازې یوه ژبپوهنیزه ستونزه ده، بلکې دا د تاریخي وېش او جلا سیاسي اډارو یوه انعکاس هم دئ.
د پښتوټولنې خاص حروف په حقیقت کې دا توري لومړی ځل د پیر روښان په الفبا کې په بل ډول ؤ، خو وروسته په کندهار او ننګرهار کې د خطاطانو او کاتبانو لخوا د یوې دایرې، لکه: "ټ، ډ، ړ، ڼ، ګ" او ځانګړو ټکو، لکه: "ږ، ښ، ځ" او د همزه په بڼه، لکه: "څ" د مروج حروفو په تغییر نوی توري تصنیف کړل.
د پښتو ژبې په ځانګړو تورو کې *ټ، ډ، ړ، ڼ* له غربیز او ژبني پلوه په نړۍ کې بېبدیله نه دئ، خو په سیمه کې د نږدې ګاونډیو او سامي ژبو (لکه عربي) او فارسي په پرتله واقعاً ځانګړي دي او بدیل نه لرې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په کوچنی کړی سینګار شوی توري لکه، ټ، ډ، ړ ، ڼ د "Retroflex" یا معکوسي غږونو په نوم یادوي. دا هغه غږونه دي چې د ویلو پر مهال د ژبې څوکه بېرته پورته خواته کړېږي. دا توري په اردو، هندي، سندي، پنجابي او سنسکرېټ کې په بشپړ ډول شتون لري. د بېلګې په توګه: په اردو کې د (ٹ، ڈ، ڑ) توري کټ مټ د پښتو د (ټ، ډ، ړ) په څېر تلفظ کېږي . «ڼ» د لیکلو بڼه (نون چې په سر کې یې یو کوچنی غبرګون وال نښان یا کړۍ وي) په ټوله اسلامي نړۍ او هغو ژبو کې چې په عربي رسم الخط لیکل کېږي، یوازې او یوازې په پښتو الفبا کې شتون لري. په اردو کې دا غږ شته خو هغوی ورته ځانګړی توری نلري او د (ن) او (ه) په یو ځای کولو یا په نورو بڼو یې د تلفظ هڅه کوی، خو پښتنو ورته په الفبا کې یو مستقل او ښکلی هویت ورکړی دئ. بیا هم، «ڼ» د پښتو ژبې د سویل او ختیځ په ټولو لهجو کې یو شان تلفظ کېږی او د «ښ» او «ږ» په څېر د سیمه ییزو اختلافاتو ښکار شوی ندي، چې دا پخپله د دې غږ پیاوړی لرغونوالی ثابتوی. خو نن دا توري د پښتو ژبې د فونولوژۍ نه بېلېدونکي برخه ګرځېدلي، د پښتو هویت ټاکونکي غږونه دي.

د بودایي مذهب له امله/عمله رامنځته شوی ژبني او کلتوري تعامل یوازې یو له هغو عواملو څخه دئ چې د دې سیمې د ژبو په جوړښت کې یې ونډه لرلې ده. په لنډه توګه، که څه هم دا ویل ستونزمن دئ چې *ټ، ډ، ړ * په مستقیمه توګه د بودایي مذهب له امله راغلی، خو د بودایي مذهب کلتوری او ژبنی میراث، چې د پښتنو په سیمه کې ژور ریښې لری، د پښتو د نورو ګاونډیو ژبو ترڅنګ د دې غږونو د شتون په غیر مستقیمه توګه اغېزمن کړیدئ.

په افغانستان کې هندوهیزم د بودایي مذهب ترڅنګ (د بودا مذهب د هندوهیزم یوه څانګه نه ده، بلکه یو جلا مذهب دئ) د پخوانیو وختونو راهیسي شتون درلود، په تېره بیا د کابل او سند سیند په شاوخوا سیمو کې. د پښتنو او هندوؤ ترمنځ د پېړیو سوداګریز، کلتوري او حتی پوځي اړیکي موجودې وې، او د دې اړیکو له امله یو شمېر ژبني اغېزې پښتو ته داخل شویدی. تمدني اړیکو په هکله د **ویل دورانت** نقل قول :

" تمدن د یوې سیند (دریاب) په څېر دئ چې د تاریخ په اوږدو کې بهیږی. په دې بهیر کې، یوازې د سیند اوبه (چې د جګړو، پاچاهیو او سیاسي پېښو نښه ده) د اهمیت وړ نه دئ. بلکې د سیند دواړه غاړې او د هغوی رول خورا مهم دئ. د سیند دا غاړې زموږ کلتور، مذهب، هنر، اخلاق او د انسانانو مینه والي هغه ځي دي چې د سیند اوبو ته لاره او بڼه ورکوي او د بشر تاریخ رښتیني تمدن ته رسوي."

د هندوس تمدن، چې د سند سیند (Indus) په غاړو کې شاوخوا ۴۰۰۰ کاله مخکې راپیدا شو، د دې نظریې اصلي موخه دا ده چې موږ باید تاریخ یوازې د پاچاهانو په جګړو او سیاسي بدلونو (اوبو) کې خلاصه نه کړو، بلکې هغه چوکاټ او انساني لاسته راوړني (غاړې) وستایو چې دا هر څه په کې جریان لري.

## دغږیزي لهجو خاص توري: ځ، څ، ږ، ښ

د پښتو ژبې نور ځانګړي توري لکه «ځ، څ، ښ، ږ» د پښتو د غږیز نظام (فونولوژۍ) تر ټولو مهم فهرست او د پښتو د لهجو د پېژندنې اصلي معیارونه دي. دا توري د ژبپوهنې او د نورو ژبو سره د پرتلې له مخې خورا ځانګړي اړخونه لری.

د"څ" او"ځ" توري: دا دوه غږونه د خلاصو او ترلو په نوم هم یادېږي چې د دوو غږونو له یوځای کېدو جوړ شوي دي. د لهجو توپیر په ختیځه او منځنی لهجه کې دا دوه توري کله ناکله په ساده (س) او (ز) بدلیږي (مثلاً ځمکه ته زمکه او څه ته سه وایي)، خو په کندهاري (لوېدیځه) لهجه کې خپل اصلي او خالص غږونه ساتي.

"ښ" او "ږ" توري : دا دوه توري په پښتو کې تر ټولو عجیبه او بحث ترېجه غږونه دي، ځکه چې د پښتو ژبې جغرافیایي پولې او د لهجو جوړښت همدا دوه توري ټاکي.

د "ښ" غږ: په لوېدیځه (کندهار) کې :(لکه: ښځه، ښه).

په ختیځه (پېښور/ننګرهار) کې :په بشپړ ډول په «خ» بدلیږی (لکه: خځه، خه).

په منځنی (پکتیا/وزیرستان) کې : د عادي شین«ش» په څېر تلفظ کېږی.

د "ږ" غږ: په لوېدیځه کې :(لکه: **ږیره، میږی**). دا غږ د نرۍ په ژبو کې خورا لږ موندل کېږی.

په پېښور/ ننګرهار کې: په بشپړ ډول په ګاف (ګ) بدلیږی (لکه: ګیره، میګی).

په منځنی (پکتیا/ وزیرستان) کې: د عادي ژین (ژ) په څېر تلفظ کېږی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په خیر و لولئ

**غړيزې لهجې**: د پښتو ژبې غړيزې لهجې لکه، لوېديځه، منځنۍ، او ختيځه (د فونولوژيکي ځانګړتياوو، دقيق جغرافيايي ويش، او تاريخي قدامت پر بنسټ خورا بدايه پس منظر لري .

د دې لهجو ترمنځ اصلي غړيز توپير د **ښ** او ږ توروو په تلفظ کې دئ، چې د ژبپوهانو لخوا د پښتو د پېژندنې اساسي معيار ګڼل کېږي.

۱ - لوېديځه لهجه (نرمه پښتو) : دا لهجه له تاريخي پلوه د کلاسيکو غږونو ساتونکې لهجه ګڼل کېږي.

غړيزه ځانګړتيا: په دې لهجه کې «ښ» او «ږ» تلفظ کېږی. همدارنګه «ځ» او «څ» خپل اصلي غږونه ساتی.

جغرافيايي ويش :د افغانستان په سويل او لوېديځ (کندهار، هلمند، ارزګان، زابل، فراه، نيمروز، او د هرات او بادغيس ځينې برخې) او د سويل لوېديځې پښتونخوا په سيمو لکه کوېټه، چمن، پښين، ژوب او لورلايي کې ويل کېږی .

قدامت :دا د پښتو لرغوني مروجه بڼه ده. د غږونو د ساتنې له عمله، په افغانستان کې د پښتو د ليکنې او ادبي معيار بنسټ همدا لهجه ده.

**۲**- منځنۍ لهجه (پکتياوالو او وزيرستانی): دا ډله يو خورا بېل او جالب غړيز نظام لرى. دا لهجه د نرمي او سختي لهجې په منځ کې موقعيت لرى، دا لهجه د دوارو اصلي حوزو کلتورى او جغرافيايي پُل ګڼل کېږی.

کلتوری او پخوانی اصالت : ژبپوهان پدې باور دي چې منځنۍ لهجه د پښتو ژبې تر ټولو پخوانی او د غږونو له اړخه تر ټولو اصيله بڼه ساتلې ده. د دوی غږونه ډېر موسيقاری او د غره د ژوند له طبعيت سره سم د پام وړ ځانګړی آواز لری.

د منځنۍ لهجې جغرافيه او ځانګړنې: دا لهجه په منځنۍ پښتونخوا او د افغانستان په سويل ختيځو سيمو کې مروجه ده؛ لکه پکتيا، پکتيکا، خوست، لوګر او غزني، او د ډيورنډ کرښې هاخوا په وزيرستان (شمالي او جنوبي)، کورمه، خيبر، اورکزيو او بنو کې. ژبپوهان پښتولهجې په بېلابېلو ډلو وېشلې، په علمي منابعو کې هم د دې لهجې د ودې ساحه شمالي او جنوبي وزيرستان، بنو، کرک او د خيبر پښتونخوا قبايلي سيمې يادې شوېدي. همدا رنګه، د پکتيا د اوسېدونکو د يوې ځانګړې ډلې (ځدراڼ او تنې) ژبه د مرکزی سيمې د يوې بېلګې په توګه مطالعه شوې ده، چې "وزيرى" صوتی خوځښت تحول يکې بشپړ دئ.

د منځنۍ لهجې ځانګړې درېځ: دا لهجه د ژبپوهنې له پلوه ځانګړې پاملرنه راجلبوي، تر دې چې يوې لويې ژبپوهنې مطالعې لپاره، د لومړي ځل لپاره د منځنيو لهجو (له جملې څخه وزيرى) ته د نورو سترو ډلو تر څنګ ځانګړې پاملرنه شوې ده.

د "ځدراڼ او تنې" د نومونو اصلي بڼې دوی سمه ليکنه د پښتو ژبې د تورو (لکه ځ، ڼ) له امله(عمل) مهمه ده.

د "ځدراڼ" قبيله : د دې قبيلې نوم په پښتو کې ځدراڼ ليکل کېږی. دا د پښتنو يوه مشهوره او نامتو قبيله ده، چې عمده استوګنځای يې د افغانستان د پکتيا، خوست او پکتيکا ولايتونه دي.

د "تنې" قبيله: د دې قبيلې نوم په پښتو کې تنې (د "ڼ" او "ې" تورو سره) ليکل کېږی. دغه قبيله په عمومي ډول د افغانستان د خوست ولايت په جنوب کې، استوګنه لری. د دوی ځينې مشهوری ځانګې اريوزي، مريخيل او سينکي دي.

د دغو دوو قبيلو نومونه لکه څنګه چې پورته ثبت شول، په پښتو رسم الخط کې دقيق او سم خپل ځانګړی توری (ڼ) لري. د مرکزی لهجې نورو قبيلو نومونه په لاندې ډول: ځاځي، منګل، بنوځي، محسود، خورياڼي، توري، بنګښ، افريدی، ختک دي.

غړيزه ځانګړتيا: په دې لهجه کې «ښ» د شين او «ږ» د ژين په غږ بدليږي. تر ټولو مهمه ځانګړتيا يې د غبرګو يا پېچلو غږونو اوښتل دي؛ مثلاً د "الف" (آ) غږ په "او" (اوو). په وزيرستانی بڼه کې دا تغيرات لا زيات او پېچلي دي .

قدامت: د غږيز بدلون له نظره، دا لهجه د تاريخ په اوږدو کې له نورو ډلو څخه په جغرافيايي او قبيلوي توګه د جلاوالي له امله رامنځته شوې ده. دا ښيي چې دا سيمې د پښتو د خورا پخوانيو او بېلو قبايلي کلتورونو زانګو پاتې شوې دي .

**۳**- ختيځه يا ننګرهاری او پېښوری لهجه (سخته پښتو): دا ډله په عامه اصطلاح کې د "پښتو" پر ځای د "پختو" په نوم يادېږي، ځکه غږونه يې سخت او تيز دي.

غړيزه ځانګړتيا: په دې لهجه کې نرم غږونه په سختو بدل شوي دي؛ «ښ» د خې (ې) په غږ او «ږ» د ګاف (ګ) په غږ تلفظ کېږي. د بېلګې په توګه، «ښه» ته «خه» او «ږيره» ته «ګيره» وايي .

جغرافيايي ويش: د افغانستان په ختيځ (ننګرهار، لغمان، کونړ، نورستان او د کابل او پروان ځينې برخې) او د خيبر پښتونخوا په شمال او ختيځو ميداني سيمو (پېښور، مردان، صوابی، چارسده، سوات او ختکو سيمو) کې ويل کېږي .



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

قدامت: دا لهجه له تاریخي پلوه د پښتو د یوې لویې ادبي دورې (لکه د خوشحال خان ختک او رحمان بابا د دورې) نمایندګي کوي. په پاکستان کې د یوسفزي د اغیز له عمله، همدا ختیځه پښتو هلته په میډیا او پوهنتونونو کې معیاري او واکمنه لهجه ګڼل کېږي . په تولیز ډول، د کندهار او پېښور د لهجو توپیر، دطبیعي ژبپوهنیزو بدلونونو، جغرافیایي واټن، او تاریخي تکامل پایله ده. د پښتو ژبې د لهجو وېش کوم ستراتژیک جبر نه ؤ، بلکې بشپړه طبیعي، کلتوري او ټولنیزه پروسه ده. ولې دا جبر د اتنیکی ودې په لار کې مزاحم ؤ او دئ.

### د پښتو د لیکدود د وېش تاریخي او سیاسي ریښې

ادبي او تاریخي اهمیت: که څه هم د پښتو کلاسیک ادب ډېر یې د ختیځې لهجې تر اثر لاندې ده. خو کندهارئ لهجه په خپله سیمه کې د یو با نفوذه او مستند ادبي دود لرونکي ده. د "کندهارئ لهجه" د پښتو یوه کتابي او معتبره لهجه بلل کېږی، او ډېر کتابونه پکې لیکل شوي دي.
د رسمي درېځ نشتوالی: دا مهمه ده چې وویل شي، د پښتو ژبې لپاره تر اوسه کومه رسمي او ټولمنلې معیاري لهجه نه ده ټاکل شوې. د "کندهارئ" او "یوسفزئ" لهجو ترمنځ سیالي په حقیقت کې د دوه بېلابېلو ادبي مرکزونو (کندهار او پېښور/ ننګرهار) ترمنځ د نفوذ سیالي ده، نه یو رسمي اعلان.
د پښتو د معیاري کېدو کیسه د یوې رسمي اعلامیې پر ځای، د ادبي مرکزونو د بدلون او د بېلابېلو لیکدودونو د شتون کیسه ده. په داسې حال کې چې یوسفزئ (ختیځې) لهجې ته په تېرو وختونو کې د لیکنې او ادب په برخه کې ډېر ارزښت ورکول کېده، خو کندهارئ (سویلي) لهجې هم تل خپل قوي ادبي درېځ ساتلی دئ. اوس مهال، د پښتو ژبې د یووالي لپاره هڅې روانې دي چې د ټولو لهجو د ځانګړتیاوو په پام کې نیولو سره، یو واحد معیاري لیکدود رامنځته کړي، څکه چې د څو لیکدودونو شتون د ژبې په پرمختګ، تکنالوژۍ او زده کړه کې خنډونه رامنځته کوي .
د دې حالت تر شا اصلي عامل په دوه ټکو کې راټولېږي:
د هېوادونو او بنسټونو بېلابېلې تګلارې: د پښتو ژبې معیاري کېدل د ملي پولو او سیاستونو تر اغېز لاندې راغلي دئ. په افغانستان کې په ۱۹۳۶ کال کې د شاهي فرمان له مخې پښتو د هېواد رسمي ژبه وټاکل شوه. د دې پرېکړې تر شا موخه د ملي هویت پیاوړتیا وه. د معیاري کولو مسئولیت د کابل د علومو اکاډمۍ په غاړه دئ. د دوی له خوا غوره شوې معیارئ بڼه، چې ډېرئ وخت ورته مرکزي پښتو ویل کېږی. دا هغه لهجه ده چې د افغانستان په دننه کې یې د پوهېدو کچه لوړه ده. په افغانستان کې، پښتو ژبه د ملي هویت په جوړولو کې یوه مهمه وسیله وه، خو بیا هم د دې چارې تطبیق تل ننګوني وې.
په پاکستان کې، دلته وضعیت توپیر لرئ. پښتو په فدرال کچه رسمي ژبه نه ده، خو د خیبر پښتونخوا په ولایت کې سیمه ییزه ژبه ده. پدې سیمه کې، یوسفزئ لهجه ډېر ځله د لیکنې او ادبي معیار په توګه کارول کېږی. د پښتو اکاډمۍ پېښور دلته د ژبې په پرمختګ او معیاري کولو کې مهم رول لرئ.
د ټول منلي رسمي معیار نشتوالی : که څه هم دواړو هېوادونو خپل معیارئ ډولونه غوره کړی. دا کار د یو متحد معیار په جوړولو کې خنډ دئ. پښتو ژبه د لهجوي پلوه ډېره بډایه ده او د ختیځ او سوېل ترمنځ د تلفظ (لکه د ښ او ږ تورو تلفظ) او ځینو نورو واړه توپیرونه شته. د یوی لهجې غوره کول چې ټولو ویونکو ته د منلو وړ وي، ډېر ستونزمن کار دئ.
د کندهارئ لهجې رول: د کندهارئ (نرمې) لهجې ته د یو معیار په توګه کتل کېدل. د پښتو ځانګړي توري لکه ښ او ږ، چې د ژبې د هویت یوه برخه ګڼل کېږی، د کندهارئ لهجې سره تړاو لرئ او د هغې په تلفظ کې روښانه دئ.
د محمدزي کورنی نفوذ: سرچینې ښیي چې د محمد ظاهر شاه په څېر پاچاهانو، سره له دې چې پښتانه وو، خو په شخصي او حکومتي کچه یې له پښتو ژبې سره ډېره لېوالتیا نه لرله او دوی په دربار او دولتي چارو کې زیاتره په دري/فارسی ژبه خبرې کولې . که څه هم د ظاهر شاه واکمنې د یو نرم مزاجه او د عصري کولو پلوه پاچا په توګه پېژندل کېږی، خو د دې معنی دا نه وه چې هغه یې د پښتو د یوې ځانګړې لهجې د رسمي کولو لپاره شخصي هڅه کړې وي . په حقیقت کې، د هغه په دوره کې هم په مرکز کې د پښتو پر وړاندې چلند د دې عامل شو چې ډېرئ پښتانه ښاریان او سیاسي فعالان له خپلې ژبې سره مخه ښه وکړی.
په پایله کې، د پښتو د لهجو د معیاري کېدو بهیر له یوې خوا د ژبې د داخلي ادبي دودونو (لکه د کندهارئ لهجې ادبي وزن) له عمله او له بلې خوا د سیاسي قدرت (لکه د محمدزي کورنی چې که څه هم پښتانه وو، خو په عمل کې یې د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دري ژبې کارولو ته لومړيتوب ورکاوه) له اغېزې څخه بې برخې نه ۈ. دې کار د پښتو د يوې ټول منلي معياري بڼې په جوړېدو کې خنډونه رامنځته کړل.

## زمونږ تاريخ په خپل بستر کې دئ

دا يو مهم فلسفي او تاريخي دريځ دئ. د استعمار او نړيوالو سياسي جوړښتونو له عمله، ډېرى سيمه ييز تاريخونه د پرديو ځواکونو له خوا تحريف شوى يا کم ارزښته ګڼل شوى دي. دا اندېښنه او د بومي تاريخ د سپړلو غوښتنه په ځاى ده. د خپلې سيمې تاريخ د هغې په خپل بستر کې وګورو، نه د پرديو مفاهيمو تر اغيز لاندې. موږ د خپلې سيمې لرغوني افسانې، کلتوري دودونه، او شفاهي ادبيات د تاريخي اسنادو په توګه وڅېړو. موږ د لرغونپوهنيزو موندنو (لکه د سوات، هډې، يا بلخ سيمو) ته د خپلې سيمې د خلکو د تمدن په سترګه وګورو، نه د پرديو لرغونپوهانو د تفسيرونو تر سيورى لاندې. موږ د ژبې، نومونو، او ځايي دودونو له لارې د سيمې د پخوانيو اوسېدونکو هويت وپېژنو.

پښتو ژبې او سيمې بومي ريښې : د پښتو ژبې په اړه بومي نظريه دا ده چې دا ژبه د دې سيمې له لرغونو اوسېدونکو سره نږدې اړيکه لرى، نه دا چې يوازې د بهرنيو يرغلګرو (لکه آريايي قومونو) له خوا راوړل شوې وي. ځينې بومي پوهان په دې باور دي چې د پښتو ځينې غړونه او ګرامري جوړښتونه د سيمې د نورو لرغونو ژبو (لکه ډارډي ژبو، يا حتى د دره سند د پخوانيو ژبو) سره نږدې والى لري، چې دا د اوږدې مودې بومي تکامل څرګندونه کوى.

د سيمه ييزو لرغونپوهنې موندنو مطالعه :د سوات، د باميان بودايي مجسمې، او د کندهار د لرغونو کتيبو په څېر ځايونه د دې سيمې د بومي تمدن نښې دي.

د شفاهي ادبياتو او کلتوري دودونو تحليل :د پښتنو ترمنځ ساتل شوى لرغوني دودونه، سندرې، او متلونه اکثراً هغه تاريخي حقايق ساتى چې په رسمي تاريخي کتابونو کې نه دي ثبت شوى.

د بديل تاريخي سرچينو لټون :د چيني، يوناني، يا هنديانو په څېر بهرنيو تاريخونو کې د دې سيمې يادونه شته، خو د دوى ترڅنګ، د سيمې د خلکو خپل ليکلي يا شفاهي تاريخونه هم مهم دي. د بېلګې په توګه، د پښتو لرغوني شاعران او د هغوى اثار کېداى شي د تاريخي پېښو په اړه نوي رڼا واچوى.

د بومي تاريخ د سپړلو غوښتنې ته درناوى لرم. د علمي پلوه، تاريخ هېڅکله يوه بې طرفه او واحد لوستنه نه دهٔ؛ د کلتور، سياست او فلسفې تر اثر لاندې دئ.

## د تېر مرحلې جبر او د نوى کلتورى هويت اړتيا

پښتو الفبا اصلاحاتو ته اړتيا لرى: <u>لر او بر پښتنو د **واحد ليک دود** رامنځته کول او د ژبې د يوى ساده او منظمې قاعدې تابع کول خورا ارزښتناک او ملي اهداف دي.</u>

په غرب کې ژبه يو لنډ قانون منده پديده ده چې الفبې په ۲۶ حروفو کې خلاصه کيږى. څنګه کولاى شو چې پښتو ژبې تورو ليکل د عاميانه پوهېدنې تابع او مطيع کړو.

د لاتين ليکدود کارول (لکه ترکيه) په اوسني افغانستان کې د پښتنو لپاره ممکن ندئ، ځکه چې دا کار به پښتانه له خپل ديني هويت، تاريخي ميراث او د سيمې له اسلامي کلتور څخه په بشپړه توګه جلا کوي. له همدې عمله، د عربي خط پر بنسټ د پښتو ليکدود ساتل او د هغې بدايه کول د عصر تر تولو منطقي ايجاب دئ.

د پښتو ليکدود بايد د عربي کلتور او د سيمې له جيوپوليټيک اهميت سره وصل پاتې شي، خو په عين وخت کې د عصر له علمي غوښتنو (سرعت، ساده ګى او ډيجيټل کېدو) سره هم عيار شي. دا هغه متوازن فورمول دئ چې پښتو ته په راتلونکي کې بقاء او ځواک وربښلی شي.

د عربي اعرابو مسئله : دعربي علايم (لکه زبر، زير، پيش) بايد استعمال شي. <u>خو په عملي پښتو ليکدود کې، دا علايم نږدې په بشپړه توګه له منځه تللي</u> او يوازې د ماشومانو په کتابونو او قرآني متنونو کې کارول کيږي . که چېرې موږ په ليکدود کې د عربي ژبې د اِعرابو (لکه ◌َ، ◌ِ، ◌ُ) کارولاى شوه، نو شايد د دغو پنځو "ى" ګانو اړتيا نه وه، خو ځکه چې دا علايم په عمومي پښتو ليکدود کې نشته، د همدې علايمو د نه استعمال له عمله، پښتو تولنه اړ شو چې د "ى" پنځه بېلابېل ډولونه (ي، ې، ى، ئ،ۍ) جوړ کړي ترڅو د کلمو ترمنځ توپير وساتي. که چېرې عربي علايم په پراخه کچه کارول کېدل، نو شايد د دې څو "ى" ګانو اړتيا نه وه، خو د عملي استعمال له عمله، دا حروف د يوې "بصري


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په څير و لولئ

اړتيا" له مخې رامنځته شوي دي. په پښتو کې د غږونو د خونديتوب لپاره د نويو تورو د جوړولو پر ځای د عربي د حرکاتو او علايمو کارول يو ډېر منطقي او د کيبورډ د سپکولو لپاره غوره بديل برېښي.
په معاصره دوره کې، معياري پښتو د ژبې د پرمختګ، تعليم، رسنيو او ادبياتو له لارې په طبيعي ډول د دوو لويو لهجو (کندهاري او پېښوری) له يوځای کېدو څخه منځته راغلي ده. د معياري پښتو لپاره اوسمهال کومه يوه ځانګړې لهجه په بشپړه توګه معيار نده، بلکې د پښتو اوسنی معيار د مختلفو لهجو يو ګډ کلتوري او ژبپوهنيز ترکيب **واحد** ليک دود دئ.
**الفبا يو وسيله دهٔ، نه اصالت:** د يوې ژبې اصالت د هغې په ګرامر، لغاتو، ادبياتو، او د خلکو په کلتوري ميراث کې دئ، نه د هغې په الفبا کې. نړۍ کې ډېرې ژبې شته چې د نورو ژبو له الفباوو څخه کار اخلي. د الفبا بدلون يا تطابق د ژبې اصالت نه کمزوری کوی، بلکې ادا د هغې د پرمختګ يوه نښه دهٔ. د عربي خط په ساتلو خپل ليکدود مډرن کړئ.
ژبه په څو تورو نه ساتل کېږي، بلکې په هغې کې د علم توليد، د کاروونکو اسانتيا، او له عصری زماني سره د هغې عيارېدو له لارې ژوندی پاتې کېږی. له عربي کلتور او اسلامي هويت سره د پښتو املاء ترل، هغه پياوړی عامل دئ چې پښتنانه يې له خپل تاريخ سره نښلولي دي.
زموږ تحريري فرهنګ په يوه غلط مسير کې، د ارواښاد "مصطفی عمرزي" په قول: «د منفي رقابت د اړتياوو پر اثر، تاريخي عمق په رسمي- فرهنګي او څېړنيز دستور المعل کې قرار ورکړی او اوس د رقابت په دغه بهير کې، له اتيا کلونو ډېر کېږی چې مخکې روان يو.
د سياسي پولو او تاريخي شالېد له عمله، د پښتنو پوهانو او ادبپوهانو ترمنځ د يووالي لپاره قوي علمي هوکړه شتون لري. د برګلي* په غونډه کې يو واحد ليکدود تصويب شوی دئ، او هڅې رواني دي چې د يوې رسمي اداري (لکه د پښتو ژبې اداري) له لارې دا تګلاره عملي کړي. نو دا پوښتنه د سياست تر اغېز لاندې ده. په دې اړه، د يو واحد ليکدود د جوړولو لپاره هڅې رواني دي او عملي لارې امکان قوي اراده ته اړتيا لري.
**د ژبې د معيار او ډيجيټل رنسانس اهميت :** ژبه او ليکدود د دې راتلونکي تر تولو پياوړې مېډيا ده. پښتو ژبه بايد: ساده، قانونمنده او مډرنه شي : ژبه بايد د معاصرو قواعدو تابع شي ترڅو په ډيجيټل نړۍ کې د کارولو سرعت يې د نورو پرمختللو ژبو په څېر چټک او اغېزمن وي.
علمي يووالی ولری :په کوزه او بره پښتونخوا کې د کتابونو، رسنيو او انټرنيټي متنونو يو رنګ کېدل د پښتنو د کلتوري رنسانس لومړنی بنسټ دی.
**املاء يا سمه ليکنه** (orthography) : املا تر ټولو لومړنی او اساسي هدف د کلمو صحيح ليکل دئ، ترڅو په لوستل او پوهېدلو کې هيڅ ډول تېروتنه رامنځته نشي. د املا مهم اهداف : معنی رسول. د ژبې يووالی. د غږ او توري ترمنځ اړيکه. د وخت او انرژۍ سپما. د کلتور او تاريخ ساتنه.
په لنډه توګه: املاء - د تورو سم يو ځای کول او ليکل دئ.
**ګرامر**(Grammatik) : په اصل کې د يوې ژبې قواعد دي چې د کلمو او جملو د سم جوړښت، ويلو او ليکلو لارښوونه کوي. ګرامر د تشريحي ژبپوهنې يوه غوره او ستره څانګه ده. دا علم په کلاسيک ډول په دوو اصلی برخو وېشل کېږی: د صرف علمِ (Morphologie) او د نحوعلمِ (Syntax) .
صرف : دا برخه د کلمي له جوړښت او د هغې له بدلون (ګردان/تغيير) څخه بحث کوی. په دې برخه کې د اسم، فعل او تورو د بڼو او رېښو بدلون لوستل کېږی.
نحو : دا برخه په جمله کې د کلمو د ځای پر ځای کولو او ترکيب اصول ښيي. دا برخه کې ښکاره کلمي سره يو ځای کړو ترڅو يوه معنی داره جمله (کلام) ترې جوړه شي.
کوم پښتو ګرامرونه چې تر اوسه ليکل شوي په هر حال دغه ګرامرونه د لاندنيو مرامونو له پاره جوړ شويدي.
**الف**: لومړی دله د پښتنو لپاره، چې د خپلې ملي ژبې ګرامر ترې زده او ګرامري اصطلاحاتو سره بلدتيا پيدا کړي.
**ب**: دويمه ډله هغه دي چې زده کوونکي د هغو په مرسته پښتو زده کړي چې په دې کې باندنيو او کورنيو پوهانو برخه اخستې ده.
دلته بايد زياته شي چې د خارجی ختيځ پوهانو له خوا ځينې ګرامرونه او ياګرامر دوله اثرونه اساسا د پښتو زده کړې له پاره په سياسي او اداری لحاظ ليکل شويدي. په دې لړکې د هانري والټربيليو او راورټی ګرامرونه د بيلګې په توګه نومولی شو.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څېر و لولئ

د لاسته راغلو مدارکو او اسنادو له مخې د پښتو ژبې په ګرامر لیکنه کې د دوومېتودونو څخه کار اخیستل شوېدئ:
**لومړی** هغه بڼه ده چې د عربي ګرامر په دود ترتیب شوی چې دغه ډول په اسلامي هیواد کې ډېر رواج موندلی دئ.
او **بله ډله** هغه چې د غربي نموني رنګ په کې غالب دئ. دې ګرامر ته مونږ غربی مېتود یا تحول موندلی.
ددغه پورتنیو میتودونو په اساس د پښتو ژبې لیکل شوي ګرامرونه چې د ختیځ پوهانو او یا پښتنو پوهانو له خوارامنځ ته شوي د یولنډ فهرست په توګه یاد ؤ.
**الف:** هغه اثار چې د کورنیو پوهانو له خوا رامنځ ته شوي دي یو دېرش(۳۱) چاپ شوی او څلور ناچاپه.
**ب:** د هغو ختیځپوهانو د ګرامري اثارو یادونه کوو چې د اتلسمې پېړۍ را په دېخوا لیکل شوی او خپاره شویدي، مجموعاً نه (نهه) ویشت (۲۹) آثار دي. [ دغه فهرست په آنلاین ډول د پوهندوی ډاکتر زرغونه رشتین زیور چې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د پوهنځي استاده وهٔ (د پښتو ژبې ګرامرته یوه لنډه کتنه)] ، تر عنوان لاندې پیدا کولای شئ.
**د پښتو لیکنې په اړه:**
په دې توګه د اتیمولوژی (ریښه پېژندنې) له نظره هم د جلا لیکنې په اهمیت پوه شوم؛ هغه لاره چې پښتو ژبې لا تر اوسه پکې لومړی ګام هم نه دئ ایښی. نو کار مې په دې قضاوت پیل کړ چې د پښتو ژبې د رسم الخط اصلاح، د پښتو ژبې د بیارغونې د مسألې یوه خورا مهمه برخه ده. له همدې سبب مې په خپل غوخ هوډ سره د لیکنې په طرز کې خپله ټوله پاملرنه لاندې مطالبو ته معطوف کړې ده.

1. عادات مې معیار (ملاک) نه دي ګرځولي. فرهنګ، په خپل ځانګړي مفهوم سره، د عامي تودې له ژبې جلا دئ؛ ځکه دویمه (د عامو خلکو ژبه) د لومړی هغې یوه کوچنې برخه ده. که موږ د ژبې د ورځنې کارول کېدو تر اغېز لاندې راشو، نو د ویونکي په اصلي پایګاه به مو پښه ایښې وي او هغه به مو د عوامو تر اغېز لاندې پامال کړې وي. هر څوک په هر کچه فرهنګ کې چې وي، "عامل" له "لامل" یا "عمل" له "امله" پرته بل ډول نه تلفظ کوی، خو دا عام عادت فرهنګ ته نشي غځېدلی او په کتابونو کې د "عامل" پر ځای "لامل" نشي لیکل کېدای.
2. د استثناوو پر لیرې کولو او د یوه عام قاعدې پر موندلو (حتی د ناګزیرو استثناوو په اړه) مې د کار د پایلې له مأنوسه یا نامأنوسه کېدو پرته له داره، ټینګار کړی دئ. ژبه د یوې عمومي قاعدې تابع ګرځول کېدای شي او باید وګرځول شي؛ ځکه ژبه د تلپاتې پراخېدونکي نړیوالي اړیکي یوه مهمه وسیله (ابزار) ده. له همدې عمله، د ګرامري او د لیکنې د طرز د زحمت ورکوونکو (لاس نیونه) استثناوو د لیرې کولو هڅه د ټولو ژبو د استادانو ترمنځ په یو عام کوشش بدله شوې ده.
3. نښو (علاماتو) ته هم د کلمو په څېر، خپلواک ژوند ښېل شوی دئ. نښې هماغه نښې دي. دا سمه نه ده چې نښې، کومې چې په ځانګړي ډول په پښتوژبه کې باید د ژبې د ښووني د لارښودو علامو په توګه وکارول شي، د کلمو په ګېډه (ننه) کې پټې کړو.
4. د هند او اروپایي ژبو سره د پښتو ژبې د همکورنۍ (همخوندي، «خوندي» یا «خویندي» د خور جمع ده) په اړه فني استدلالات نه دئ تعقیب شوي او د بېلګې په توګه د جرمني یا انګلیسي ژبې د لیکنې د طرز او د مرکب جوړونې د اسلوب له مخې د الګو جوړونې په لټه کې نه یم تللی؛ ځکه پښتو ژبه خپلې ځانګړې ستونزې لري او هغه طریقې د پشتو خط لپاره د لاندې دلایلو له امله مردودې دي:

الف. د پښتو په تورو (حروف) کې د (ب، پ، ت، ث، ش، س، ف، ق، ن، ی) ترمنځ ورتهوالی (تشابه)، په ځانګړي ډول هغه مهال چې دا توري د کلمې په منځ کې نښلي (منځنی بڼه) کې راځي، په لیکلو او لوستلو کې داسې ستونزې رامنځته کوي چې په لاتیني تورو کې نشته.
ب. د غړېزو نښو (صوتي علامو) نشتوالی، د کلمو سم تلفظ ستونزمن او کله ناکله غیرممکن ګرځوي؛ دا هم له هغو موارد و څخه دی چې لاتیني ریښه لرونکې ژبې ورسره مواجه (مخامخ) ندي.
ت. د همغږو حروف وفور او پرېماني لکه: (ز، ذ ، ظ ، او ض) - ( ت او ط) - ( ث، س او ص ) او دغه راز د هم شکلو تورو ډېرښت (فراواني): (ب، پ ، ت، ث) - (ج ، چ ، ح ، خ) - (د ، ذ) - (ر، ز، ژ) - (س ، ش) - ( ص، ض) - ( ط، ظ) - ( ع، غ) - ( ک، ګ) یا دا ډول: [ ځ، ز، ظ، ذ، ض] ؛ [ څ، س، ث، ص]؛ [ړ، ګ] زموږ د ژبې د ستونزو بل مورد دئ چې په لاتیني تورو کې شتون نلري.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ث. په لاتيني تورو کې د کلمو ترمنځ د فاصلې ايښودل اجباري دئ، په داسې حال کې چې په پښتو کې دا ډول نه دئ؛ له همدې عمله هم په لاسي ليکنو او هم په چاپي کتابونو کې غالباً د کلمو ترمنځ د فاصلې مراعات نه کيږي، او د پورته ذکر شوي علت له عمله د متنونو د لوستلو سختې ـ که چاپي وي او که خطي – ټولو ته روښانه ده.
پښتو ليکدود بايد له خنډونو پاک شی او ليکوالان يې بايد متحد شي، خورا د ستاينې وړ او علمی عمل دئ.

۲ سنبله (وږی) ۱۴۰۵

انجنير شيرمحمد ساپی

---

*\ برگلي - پخوانی هوکړې د ۱۹۴۲م کال راهيسې، د پولې دواړو خواوو پوهانو د ليکدود د توپيرونو د حل لپاره گڼې غونډې کړې دي. يوه مهمه لاسته راوړنه د ۱۹۹۰مې لسيزې په لومړيو کې د برگلي (Bara Gali) په غونډه کې ترلاسه شوه، چېرته چې د پښتو د يو واحد ليکدود پر سر موافقه وشوه. له بده مرغه، د يوې مرکزي واکمنې ژبپوهنې اداري د نشتون له کبله، دا هوکړه په بشپړه توگه عملي نه شوه. پښتو اکاډمی (پېښور) او د افغانستان د علومو اکاډمی په دې تړاو گڼې غونډې کړې او په دې اړه يې سپارښتنې کړې دي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ